سردار محمد همدرد ۲۰۱۶/۰۴/۲۵

# استاد یون، بنه لیکوال که غوره سیاستوال


پوهاند محمد اسماعیل یون

داسي ټولنه او داسي قوم چي يو وخت يې د جلال او عظمت کيسو د نړۍ د پاچاهانو تختونه لړزول، داسي وخت وو چي ټوله نړۍ ورته سرټيټي وه، داسي ملت و چي پر کيسو او اتلولی يې د ټولي نړۍ هوښيارانو خولي خوځولي او داسي ولس وو چي نورې نړۍ کتابونه پر وليکل.

خو دغه ولس، دغه ملت او ژبه يې په اوسني عصر کې دومره محاصره ده چي ويونکي، لوستونکي، ليکوال او پوهان يې د خلاصون په اړه د څه ويلو جرأت نه لري.

د خوارې پښتو سره د ظلم په خاطر هر څوک زړه خوري، خو يوازې د ګوتو په شمېر خلکو دغي ژبي ته د خدمت په خاطر چي قانوني او ژبنی حق يې دی د يو شمېر تنګ نظره خلکو دښمني پر غاړه اخيستي ده او ژوند يې له احتمالي ګواښونو سره مخ دی.

د دغه کسانو په ډله کي يو هم دروند استاد، تکړه ليکوال، وېښ سياستوال او ربښتينی مبارز محمد اسماعيل يون دی چي اوس يې له نيکمرغه له نوم سره د «پوهاند» مختاړی هم ور ډېر شو.

استاد په هغه کلونو کي د پښتو ژبي د ګټلو لپاره مبارزه کړې ده او پر دغه ژبه د مسلطو تېرى کوونکو مخه يې نيولې ده چي هيچا هم د دي جرأت نه شو کولی چي پښتو وپالي، ننګه او دفاع يې وکړي.

استاد سره له دې چي د هر باطل پر وړاندې په هر ډول شرايطو کي د حق آواز پورته کړی دی، ترڅنګ يې کلتوري او فرهنګي فعاليتونه هم فعاله ساتلي دي او د دومره بوخت ژوند سره سره يې د چاپ شويو کتابونو شمېر نږدې ۵۰ ته رسيږي.

استاد يوازې د خپل فکر خپرولو څخې نه کوي او نه د يو شمېر خلکو په څېر تنګ نظره دی چي نور دې هيڅ نه وي فقط دی دې وي، بلکې يوه مياشت وړاندې يې د هېواد په لر او بر کي د بېلابېلو ليکوال ۱۰۲ ټوکه کتابونه هم چاپ کړل.

استاد له پښتو ژبي، پښتنو او افغانيت سره بې ساري مينه لري، په پېژندپانو کي يې د اسلاميت او افغانيت د ځايولو لپاره د ټول هېواد پښتانه په شور راوستل، وېښ يې کړل او د ارګ تر خولې ور وستل چي په محاصره ارګ کي يې ولسمشر غوښتني ومنلي او مبارزې يې رنګ راوړ.

استاد ته په دې وروستيو کي د خپلو علمي هڅو، خېړنو او ژبي ته د خدمت کولو له برکته د «پوهاند» رتبه ورکړل شوه، چي دا يې د زيارونو، شبګيرو او خېړنې ثمره وه.

استاد ته خدای ج ډېر علم ورکړی دی، تر دې پورې چي د خپلو يو شمېر استادانو يې رتبه لوړه شوه، څکه نوموړي تل هڅه کړې ده، کوښښ يې کړی دی، که له يوې خوا د ملت په غم او د ولس د دردونو له امله سياست کي ښکېل دی بل پلو يې خپله ليکوالي هم نه ده پرېښې، څېړنه کوي او ارزښتمن کتابونه ليکي چي په وروستيو کي يې ګڼ شمېر کتابونه چاپ شول چي «پښتو ادبياتو تاريخ» او «کره کتنه» يې مهم او نوي کتابونه دي.

پورته دوه کتابونو په ګډون يې يو شمېر نور هم يوه مياشت وړاندې چاپ شول.

که زموږ سياستوال دي او که ليکوال دي، تر ډېره په شعارونو ولاړ دي، تشي وېناوې دي، د عمل هيڅ څرک نشته، خو استاد هغه افغان ليکوال دی چي سياسي هڅې يې هم عملي ښکاري او سياست يې هم پر ليکوالی اغېز ونه کړ.

زموږ ډېرى ليکوال چي د سياست په خوند کي ورک دي، ليکوالي ورځخه پاتې ده چي دغه کار ژبي او ادب ته زيان رسولی، ليکنيز او څېړنيز بهير يې سست کړی دی، خو په اوسني بوخت ژوند کي استاد اسماعيل يون د «پوهاند» رتبې ترلاسه کول دا په ډاګه کوي چي يوازې سياسي نه بلکي د خپلې ژبې، خلکو او ادب حق يې هم ادا کړی دی.

دا علمي بريا دې، استاد او د هغه د ژوند څښاند او زيارکښ يون ټولو همغاړو ته مبارک وي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ